عمومي اسامبله

امنيت شورا

خپرېدل: عمومي
۳ ډسمبر ۲۰۲۵
اصل: انګليسي

**عمومي اسامبله**
**اتيايمه ناسته**
د اجنډا ۳۶ ماده
**په افغانستان کې وضعيت**

**د امنيت شورا**
**اتيايم کال**

# په افغانستان کې وضعيت او پر نړيوالې سولې او امنيت يې اغېزې

## د سرمنشي راپور

### لومړی: پېژندنه

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د 79/317 پرېکړه ليک او د امنيت شورا ۲۷۷۷ (۲۰۲۵) پرېکړه ليک پر بنسټ ترتيب شوي چې په هغه کې له عمومي منشي څخه غوښتل شوي و، چې په هرو درېيو مياشتو کې، د ملې کچې په ګډون، په افغانستان کې د وضعيت او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي (يوناما) د ماموريت د تطبيق په اړه راپور ورکړي.

۲. د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر د ۵ نېټې د راپور (A/80/366-S/2025/554) له خپرېدو راهيسې دغه راپور د سياسي، بشري، او د بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعاليتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

### دويم: اړوند تحولات

۳. د طالبانو مشر هبت الله اخندزاده په کندهار کې له لوړ پوړو برحاله چارواکو او ديني علماؤو سره په لېدو سره تعامل زيات کړی، او د يوې سوچه اسلامي ټولنې د خپل ليد د خدمت په پار يې د برحاله ادارو او په پراخه کچه په خلکو کې خپل اقتدار اعمال کړی. د راپورونو له مخې هغه په هيواد کې د انټرنيټ د بندولو په موخه د فايبر نوري د جزئي او بيا وروسته د ټولې شبکې د بندېدو امر وکړ چې په پراخه کچه د ګڼو مخابراتي خدمتونو د اختلال او د پام وړ ټولنيزو-اقتصادي عواقبو لامل شو. راپورونو له مخې مخابراتي خدمتونه له نږدې ۴۸ ساعتونو وروسته، په کابل کې د رئيس الوزراء محمد حسن آخند د پرېکړې په تعقيب بېرته پيل شول. د وسله والو مخالفو ډلو او د عراق او شام-خرسان ډلې (ISIL-K) وخت نا وخت فعاليتونو دوام درلود خو د برحاله چارواکو د ځمکنۍ حاکميت لپاره يې کومه د پام وړ ننګونه نه ده رامنځ ته کړې، په داسې حال کې چې په اکتوبر کې د برحاله چارواکو او پاکستاني امنيتي ځواکونو ترمنځ دوښمنيو/نښتو پراخه ولسي مرګ ژوبله رامنځ ته کړه چې يو له بل سره په سوله ييز چاپيريال کې د اوسېدو په اړه د لوړې کچې د مذاکراتو لامل شوې. برحاله چارواکو په ټول هيواد کې د ملګرو ملتونو ودانيو ته د ننوتلو د بنديز په ګډون پر افغان ښځينه پرسونلو د لاسرسي د محدوديتونو په عملي کولو سره د محدودوونکو پاليسيو او کړنو تطبيقول جاري ساتلي چې د عامه ژوند په ټولو برخو کې د افغان ښځو او نجونو حقونو لا پسې محدودوي. د دې په تعقيب ملګرو ملتونو په افغانستان کې خپل ځينې عمليات وځنډول. د مرستو د کمېدو، سوکه ودې او په ۲۰۲۵ کال کې (د نومبر تر ۱۵ نېټې پورې) له ګاونډيو هېوادونو څخه د ۲.۴ ميليونه افغانانو د ډله ييزې راستنېدو په پايله کې د زياتيدونکي

فشارونو له امله د هیواد اقتصاد نازک پاتې شوی، چې دغه وضعیت محدود منابع او خدمتونه او په اګست او نومبر کې د زلزلو اغېز لا پسې تر فشار لاندې راوستی. بشري اړتیاوې په چټکۍ سره لوړې شوې ځکه چې د تمویل کمښت د خوړو، روغتیا او ساتنې مرستو د کموالي لامل شو، چې د خوارځواکۍ او ناروغیو د خپرېدو په جریان کې یې په ملیونونو افغانان اغېزمن کړل. د نومبر تر ۷ نېټې پورې، د ۲۰۲۵ کال د بشري اړتیاوو او غبرګون پلان له مخې د اړتیا وړ ۲.۴۲ بیلیونه امریکایي ډالرو له مبلغ څخه چې ۱۶.۸ میلیونه خلکو ته په پام کې نیول شوی و، یوازې ۳۵.۷ سلنه ترلاسه شوې.

## الف. سیاسي تحولات

۴. د طالبانو مشر له لوړ پوړو برحاله چارواکو سره په کندهار کې یو شمېر ناستې ترسره کړې. د اګست پر ۲۸ نېټه، د پوهنې وزیر حبیب الله آغا، مخکښو دیني علماؤو او برحاله چارواکو سره د "اصلاحاتو سیمینار" ترسره کړ، چیرې چې هغه د تعلیم پر بنسټ د عقیدې ارزښت په ډاګه کړ. د اکتوبر له ۴ تر ۶ نېټې پورې، هغه یوه درې ورځنۍ ناسته ترسره کړه چې د ټول هیواد والیان، ولسوالان او دغه راز برحاله د کورنیو چارو، پوهنې، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر او د اطلاعاتو او کلتور وزیران راغونډ شوي وو، چیرې چې هغه له برحاله چارواکو څخه وغوښتل چې د باور وړ استازو په توګه خدمت وکړي، په تقوا، صداقت او انصاف سره رهبري وکړي، له عالمانو سره مشوره وکړي، له فساد څخه ډډه وکړي او یوازې وړ اشخاص وګماري.

۵. د سپتمبر پر ۲ نېټه، د طالبانو مشر د یوه فرمان په خپرولو سره برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ته په ټول هیواد کې افغان سرې میاشت ته د درملنې په پار د رواني ناروغانو د په ګوته کولو او لېږدولو مسؤولیت وسپاره. دغه مسؤولیت پخوا د برحاله عامه روغتیا د وزارت له خوا سمبالېده.

۶. د سپتمبر پر ۷ نېټه، برحاله چارواکو له پخواني بندیز سره په سمون کې په ټول هیواد کې د ملګرو ملتونو پرسونل افغان میرمنو لپاره د ملګرو ملتونو دفترونو ته پر لاسرسي په سخت ډول د محدودیتونو پلي کول پیل کړل. برحاله چارواکو خپل پرسونل ځای پر ځای کړی وو څو د ملګرو ملتونو ودانیو ته د افغان ښځینه کارمندانو، مشاورینو او مراجعینو د ننوتلو مخه ونیسي. د برحاله چارواکو له مشرتابه سره د ماموریت له تعامل سره سره چې زر تر زره یې د دغو محدودیتونو د لرې کولو غوښتنه کوله، خو بیا هم د دغه راپور تر لیکلو هغه نافذ وو.

۷. د سپتمبر پر ۱۵ نېټه، د بلخ د برحاله والي د دفتر ویاند د خواله رسنیو له لارې اعلان وکړ چې د طالبانو د مشر په امر په ولایت کې د نوري-فایبر انټرنیټي خدمتونه بند شوي. د سپتمبر له ۱۶ تر ۱۹ نېټې پورې، دغه بندښت لږ تر لږه ۱۵ ولایتونو ته وغځېده چې په مختلفو کچو د اختلال خبر ورکړل شوی. د سپتمبر پر ۲۹ نېټه، په ټول هیواد کې مخابراتي خدمتونه وتړل شول چې هم یې نوري-فایبر او هم یې د موبایل شبکې اغېزمنې کړې. دغه بندښت په افغانستان د عامو خلکو، برحاله چارواکو، ډیپلوماتیکو ماموریتونو او ملګرو ملتونو په ګډون ټول سکتورونه اغېزمن کړل. په ټول هیواد کې د عامه او خصوصي سکتور خدمات لکه د نړیوالو اسعارو لیږد رالیږد، روغتیایي پاملرنې، ګمرکي پوستې او د صرافۍ اتومات ماشین (ATM) خدمتونه سخت مختل شول ، چې د پام وړ ټولنیزو او اقتصادي ستونزو لامل شو. زیاتره سوداګریزې الوتنې لغوه شوې. له نږدې ۴۸ ساعتونو وروسته د اکتوبر پر ۱ نېټه په ټول هیواد کې مخابراتي خدمتونه بېرته پیل شول. برحاله چارواکو د دغې پېښې په اړه کومه اعلامیه خپره نه کړه؛ خو ګڼو رسنیو خبر ورکړ چې د برحاله رئیس الوزار په پرېکړې مخابراتي خدمتونه بېرته پیل شول. د ټول

هیواد په کچه تر بندښت وروسته، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د ټولنیزو رسنیو پراخ فلټر کول معرفي کړل. د اکتوبر پر ۲۸ نېټه، یوناما پر افغان وګړو د مخابراتي خدمتونو د بندښت د اغېز په اړه لنډ راپور خپور کړ.[1]

۸. د اکتوبر له ۱۰ تر ۱۸ نېټې پورې د پولې په اوږدو تر نښتو او هوایي بریدونو وروسته، افغانستان او پاکستان د اکتوبر په ۱۸ او ۱۹ په دوحه او د اکتوبر له ۲۵ تر ۳۰ پورې په استانبول کې د قطر او ترکیې په منځګړیتوب په جوړو شویو غونډو کې د اوربند اعلان او وروسته یې پر ساتلو موافقه وکړه. د افغانستان، پاکستان، قطر او ترکیې د ګډې اعلامیې له مخې، دواړو خواوو موافقه وکړه چې اوربند وساتي او د تخلفاتو لپاره له مجازاتو سره د څارنې او تایید میکانیزم رامنځته کړي. خبرې اترې د نومبر پر ۶ په استانبول کې بیا پیل شوې او د نومبر پر ۷ له کومې پایلې پرته پای ته ورسیدې.

۹. برحاله چارواکو د اطلاعاتو او کلتور د وزیر، د سرحدونو او قبایلو چارو ؛ پوهنې؛ حج او اوقافو؛ صنعت او سوداګرۍ؛ کورنیو چارو؛ عامې روغتیا؛ فواید عامې؛ ترانسپورت او ملکي هوایي چلند؛ او ښاري پراختیا او کور جوړونې د وزارتونو د نهو مرستیال وزیرانو، او همدارنګه د رییسانو په ګډون د مشرتابه پر منصبونو دوي ته د ژمنو کسانو ټاکل جاري ساتلي. په ځایي کچه ګمارنو کې د بدخشان، بادغیس، فراه، هلمند، خوست، لغمان، نیمروز، اروزګان او وردګو ولایتونو لپاره د برحاله والیانو او د غزني، جوزجان، وردګو او زابل ولایتونو لپاره د مرستیال والیانو، ۱۸ ولسوالانو، ولایتي مرکزونو لپاره د ۳ ښاروالانو، د ولایت د دوه امنیه قوماندانانو، او د اړوندو ریاستونو له ۲۰ زیاتو رئیسانو ګمارنه شامل ده. سربېره پر دې، درې برحاله قاضیان د برحاله سترې محکمې د رئیسانو د مرستیالانو په حیث او دوه نور د برحاله سترې محکمې د رئیسانو په حیث ګمارل شوي. د راپور ورکولو په موده کې په بدخشان او غور ولایتونو کې له مدرسو څخه د فراغت مراسم ترسره شوي چې ۵۳ نرینه او ۱۲ ښځینه دیني عالمان فارغ شوي. په بدخشان، غزني، پکتیکا، پکتیا او وردګو ولایتونو کې اته مدرسې پرانستل شوې. برحاله چارواکي په مدرسو پورې اړوند مراسم د ملي یووالی د ساتلو، د خپل حاکمیت د ملاتړ د غوښتنې او د خپلو لاسته راوړنو په ډاګه کولو لپاره کاروي.

۱۰. د اګست پر ۲۴ نېټه، برحاله چارواکو د طالبانو د مشر د فرمان له مخې د ملکي او نظامي متقاعدینو لپاره د تقاعد ویش اعلان کړ. د اکتوبر پر ۱۸ نېټه، برحاله د مالیې وزارت اعلان وکړ چې د سرحدونو او قبایلو چارو، حج او اوقافو او د کلیو د بیارغونې او پراختیا د وزارتونو د متقاعدینو او د دفاع وزارت د جنرالانو د تقاعد تادیه به د اکتوبر پر ۲۷ نېټه پیل شي. د تقاعد د حقونو د عمومي ریاست له خوا له همغږۍ سره سره، تطبیق له مالي محدودیتونو او بیوروکراتیکو خنډونو سره مخ و، چې د نور ځنډ او د متقاعدینو له خوا د لاریونونو لامل شو.

۱۱. یوناما له مدافع وکیلانو او نورو هغو مخاطبینو سره خبرې اترې وکړ چا چې د برحاله چارواکو د قانوني سیستم په اړه خپل نظرونه څرګند کړل او هغه یې "ناکافي" وباله. برحاله محکمو ته د ښځو مستقیم لاسرسی لاهم د خنډ سره مخ و ځکه چې برحاله قاضیان د ښځو قضیې د شخړو غیر رسمي حل ته راجع کوي یا لارښوونه کوي چې د محکمې خدماتو ته د لاسرسي لپاره د محرم (نارینه سرپرست) شتون اړین دی.

۱۲. د سپتمبر له ۲۹ تر ۳۰ نېټې پورې، افغان مخالف مشران او فعالین په اسلام آباد کې د "یووالي او باور په لور" تر عنوان لاندې په یوه دوه ورځني کنفرانس کې راغونډ شول چې د جنوبي آسیا د ستراتیژیک ثبات د انستیتوت له خوا تمویل

[1] د راپور لپاره دغه ویبپاڼه وګورئ: ttps://unama.unmissions.org/briefing-impact-telecommunications-shutdowns-afghan-people.

شوي و. دا د ۲۰۲۱ کال په اگست د طالبانو له خوا د واک د بېرته ترلاسه کولو وروسته د افغان مخالفو مشرانو لومړۍ ناسته شوه چې په پاکستان کې ترسره شوه.

۱۳. برحاله چارواکو خبر ورکړ چې د اگست د ۴ او د اکتوبر د ۲۶ نېټو ترمنځ، په ۱۷ ولایتونو کې ۳۲ سیمه ییزې شخړې، چې پکې د کورنۍ او ټولنې موضوعات او د ځمکې او اوبو حقونو پورې اړوند شخړې شاملې وې، د ټولنې مشرانو، دیني عالمانو او برحاله چاراوکو د منځګړیتوب له لارې حل شوې دي.

۱۴. د اگست د ۴ او د اکتوبر د ۲۶ نېټو ترمنځ، د یوناما ساحوي دفترونو په ۲۰ ولایتونو کې ټولټال ۱۴۸ د عامه پوهاوي فعالیتونه ترسره کړل چې په کې مدني ټولنه، قومي مشران، ژورنالیستان، متشبثین او ښځینه فعالین شامل وو چا چې د مدني فضا، د ټولو وګړو لپاره د زده کړې، د کاري فرصتونو، ټولشموله ګډون او د ښو ټولنیزو اقتصادي اسانتیاوو پر اړتیا ټینګار وکړ. د پوهاوي په درې دیرش ناستو کې چې په ۱۳ ولایتونو کې په ځانګړي ډول د ځوانانو او نارینه وو ترسره شوې، د مدني فضا پر راکمیدو، د زده کړې او کارموندنې فرصتونو پر نشتون، په ځانګړي ډول د ښځو لپاره، او د ځوانانو د فعالیتونو او آزادۍ پر ځپلو متمرکزې وې. په سپتمبر کې، یوناما د مختلفو مخینو لرونکو ځوانانو لپاره چې ۵۰ سلنه ګډونوال یې ځوانې ښځې وې ګردی میز دایر کړ. دغه ګردي میز د یوناما له مشرتابه سره د نسلونو ترمنځ ډیالوګ و چې پر مهارتونو، معیشتونو، استخدام او د اقلیم له بدلونونو سره پر مقاومت متمرکز وه.

۱۵. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۷۲۱ (۲۰۲۳) پریکړه لیک پر بنسټ د افغانستان لپاره د وړاندیز شوي هر اړخیزې تګلار په اړه له نړیوالې ټولنې، برحاله چاراوکو او افغان شریکانو سره خپل تعامل جاري ساتلی، چې د افغانستان په اړه د یوې نړیوالې اجماع د ساتنې او د بشر حقونو، په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو حقونو، او حکومتولۍ په ګډون هغو پیچلو موضوعاتو د حل لپاره د سیاسي حل لار د برابرولو په هڅه کې دي چې له نړیوالې ټولنې سره د هیواد پر بیا یوځای کېدو اغیز کوي.

**ب. امنیت**

۱۶. د اگست له ۱ څخه د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې، ملګرو ملتونو د خوندیتوب او امنیت اړوند د ۲۷۳۷ پېښو راپورونه ثبت کړي، چې په ۲۰۲۲ کال کې د ورته مودې په پرتله ۱۴.۷ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.

۱۷. د اگست له ۱ څخه د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې، وسله مخالفو ډلو پر ملي قلمرو د برحاله چاړواکو کنترول ته کومه د پام وړ ننګونه رامنځ ته نه کړه. په بغلان، هلمند، هرات، کابل، کندهار، کندز، نیمروز، پنجشیر او تخار ولایتونو کې د افغانستان د آزادۍ جبهې، د ملي مقاومت جبهې، د جګړې ملي جبهې، د ملي بسیج جبهې، د افغانانو د اسلامي آزادۍ جبهې او د افغانستان د آزادۍ غورځنګ د مختلفو لاسي بمونو د بریدونو، پر چک پواینټونو او کاروانونو د ډزو په ګډون چې ۱۹ هغه یې تصدیق شوي، د ټولټال ۴۱ پیښو مسؤلیت پر غاړه واخیست.

۱۸. د اگست له ۱ څخه د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې، د عرق او شام د اسلامي دولت-خراسان ډلې بریدونه هم د تکرار او هم د پیمانې له پلوه کم شوي، په داسې حال کې چې برحاله امنیتي ځواکونو د دغې ډلې پر وړاندې خپل عملیات جاري ساتلي. د اگست پر ۱۲ نېټه، نوموړې ډلې ادعا وکړه چې دوه جنګیالي یې چې د غلا په تور بندي وو د کندز له محبس څخه اخیستل شوي او د بند پرمهال وژل شوي. د اگست پر ۱۳ نېټه برحاله ځواکونه د دغې ډلې قوماندان وواژه او د اگست پر ۱۵ نېټه نوموړې ډلې ادعا وکړه چې په ننګرهار کې یې یو شخص طالبانو ته د جاسوسۍ په تور وژلی.

۱۹. د اگست له ۱ د اکتوبر تر ۱۷ نېټې پورې، د ایران اسلامي جمهوریت، پاکستان او تاجکستان سره د هیواد پر پولو ګڼې پېښې رامنځته شوې. د اگست پر ۳ نېټه په ننګرهار ولایت کې، پاکستاني او برحاله امنیتي ځواکونو د هغو امنیتي پوستو پر سر نښته وکړه چې د برحاله ځواکونو له خوا جوړېدې، په داسې حال کې چې په کونړ ولایت کې، پاکستاني ځواکونو پر افغانستان د هاوان مرمۍ توغولې. د اگست پر ۶ نېټه په بدخشان ولایت کې، برحاله سرحدي پولیسو له پاکستاني امنیتي ځواکونو سره د پولې په سیمه کې د یوه چک پواینټ د جوړولو پر سره نښته رامنځ ته شوه. د اگست پر ۲۵ او د اکتوبر پر ۲۴ نېټه، برحاله امنیتي ځواکونو او تاجک سرحدي پولیسو یو پر بل دزې وکړې. د اگست پر ۲۹ نېټه په کونړ ولایت کې دوه جلا جلا پېښې رامنځ ته شوې. په یوه برحاله او پاکستاني امنیتي ځواکونو یو پر بل ډزې وکړې چې مالي زیان رامنځ ته کړ، او په بلې هغې کې، د پاکستان له خوا د هاوان مرمۍ وتوغول شوې. د اگست پر ۳۰ نېټه، برحاله امنیتي ځواکونو او ایراني پوله ساتونکو وروسته له هغې یو پر بل دزې وکړې کله چې ایراني چارواکو هغه افغانان ووهل چا چې له پولې د تېرېدو هڅه کوله، چې له امله یې د لنډ وخت لپاره پوله وتړل شوه. د سپتمبر پر ۵، ۱۴، او ۱۶ نېټه په کونړ ولایت کې د پاکستان له خوا د هاوان او سپکو وسلو دزې وشوې چې شخصي استوګنځی یې زیانمن کړ، څاروي یې ووژل او پر پرانیستو سیمو ولګېدې.

۲۰. پاکستان په دوامدار ډول ادعا کوي چې د تحریک طالبان پاکستان (تي تي پي)[2] په پاکستان کې بریدونه کوي او طالبان دغې ډلې ته پناه ورکوي، هغه ادعا چې طالبان یې ردوي. د اگست له ۱ څخه د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې، په ټول افغانستان کې د ګڼ شمېر هوایي او بې پیلوټه الوتکو د بریدونو خبر ورکړل شوی. د غزني، هلمند، کابل، کندهار، خوست، لوګر، ننګرهار، پکتیا او پروان ولایتونو په ګڼ شمېر ولسوالیو کې د څارنې بې پیلوټه الوتکې لېدل شوې. په نورستان ولایت کې د اگست پر ۱۱ نېټه او په خوست، کونړ او ننګرهار ولایتونو کې د اگست پر ۲۷ نېټه هوایي بریدونه چې د ادعاوو له مخې یې د تي تي پي ځایونه په نښه کړي، د ولسي مرګ ژوبلې لامل شوي. پر دې سربېره د سپتمبر پر ۱۴ په خوست، د سپتمبر پر ۱۷ په پکتیکا او پکتیا، د سپتمبر پر ۲۳ په کندهار او د سپتمبر پر ۳۰ نېټه په کندز کې د بې پیلوټه الوتکې د فعالیتونو په اړه خبر ورکړل شوی. د اکتوبر پر ۹ نېټه د کابل په ښار کې هوایي بریدونو د راپورونو له مخې د تي تي پي مشر نور ولي محسود په نښه کړ، څوک چې له برید څخه ژوندی ووت، او د اکتوبر پر ۱۰ نېټه تي تي پي او په دوي پورې تړلی د حافظ بهادر ګل ګروپ په پکتیکا ولایت کې په یوه هوایي برید کې په نښه شول. د برحاله دفاع وزارت له خوا د عملیاتو له پیل وروسته، د اکتوبر د ۱۰ او ۱۸ نیټو ترمنځ د کندهار ولایت د سپین بولدک ولسوالۍ او د کابل ولایت په ګډون د پاکستان سره پر پوله پرتو ولایتونو کې، د پولې په اوږدو کې یو شمېر نښتې او هوایي بریدونه پېښ شول. د اکتوبر پر ۱۵ نېټه د کابل ښار به ۴ ناحیه کې د راکېټ د دوو چاودنو په ګډون یو شمېر دغه پېښې د ګڼې ولسي مرګ ژوبلې لامل شوې. د اکتوبر پر ۲۱ نېټه د رسنیو له راپورونو سره سم، د پاکستان د پوځ مشر یو ځل بیا ټینګار وکړ چې د پاکستان پر ځمکنۍ بشپړتیا هر ډول برید به د کلک او پرېکنده ځواب سره مخ شي.

۲۱. د اگست له ۱ څخه د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې، ملګرو ملتونو په ۲۰۲۴ کې د ورته مودې د ۷۸ پېښو په پرتله د خوندیتوب او امنیتي ۶۳ پېښې مستند کړي چې په مستقیم ډول یې د دوي کارمندان اغېزمن کړي. د تګ راتګ د هغو محدودیتونو شمېر چې د ملګرو ملتونو عملیات اغېزمنوي د طالبانو د مشر د هغه فرمان له سخت تطبیق وروسته زیات شو چې افغان ښځینه پرسونل د ملګرو ملتونو دفترونو ته د کار لپاره له ننوتلو منع کوي. په کابل کې د برحاله دفاع وزارت منسوبین په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عملیاتو له مرکز (یونوکا) څخه بهر ځای پر ځای شوي وو څو د افغان ښځینه کارمندانو د

[2] د ۲۰۱۱ کال د جولای پر ۲۹ نېټه، د ۱۹۸۹ (۲۰۱۱) پرېکړه لیک د ۴ او ۵ پاراګراف له مخې تي تي پي له القاعده سره د تړاو په تور په لیست کې شامل شوې.

نوتلو مخه ونیسي، چې ورته کړنې په کابل کې په بارون کمپاونډ کې هم ترسره شوي. د ملګرو ملتونو په یو شمېر ساحوي دفترونو کې، برحاله د محافظتي خدمت ډلې دغه فرمان تطبیق کړی.

## ج. سیمه ییزه همکاري

۲۲. د اګست پر ۲۶ نېټه په تاشکند د خپلو څانګړو استازو په یوه غونډه د مرکزي آسیا پنځو هیوادونو د افغانستان په اړه د مرکزي آسیا تماس ګروپ جوړ کړ. د تماس ګروپ هڅه کوي چې د بشردوستانه ملاتړ، سرحدي امنیت او اقتصادي ادغام نوښتونو په اړه چې افغانستان په کې شامل وي، د پلازمینو ترمنځ منظمې همغږۍ ته وده ورکړي. د سپتمبر پر ۱۱ او ۱۲ نېټه، د تاجکستان په مشرۍ، د شانګهای د همکارۍ سازمان غړو هیوادونو په دوشنبې کې د افغانستان په اړه د سلا مشورو غونډه وکړه. په دغې غونډه کې، د افغانستان د وضعیت او د سیمې د ټیکاو لپاره د هغه د اغیزو په اړه بحث وشو، او د شانګهای همکارۍ سازمان د افغانستان په اړه د تماس ډلې لاندې د همکارۍ لارې چارې وڅېړل شوې. د سپتمبر پر ۲۳ نېټه، د افغانستان په اړه د اسلامي همکاریو سازمان د تماس ډلې خپله لومړۍ غونډه په نیویارک کې د عمومي اسامبلې په څنډه کې ترسره کړه. د سپتمبر پر ۲۵ نېټه، د چین، ایران اسلامي جمهوریت، پاکستان او روسیې فدراسیون د بهرنیو چارو وزیرانو په نیویارک کې د افغانستان په اړه څلور اړخیزه غونډه ترسره کړه، په کومه چې یې یوه ګډه اعلامیه خپره کړه چې د ترهګرۍ، نشه یي توکو او بهرنیو لاسوهنو څخه پاک، خپلواک او سوله ییز افغانستان لپاره یې خپل ملاتړ بیا تایید کړ او د سیمه ییز اقتصادي تعامل د زیاتوالي ملاتړ یې وکړ.

۲۳. د اکتوبر پر ۷ نېټه، د افغانستان په اړه د سلا مشورو د څانګړو استازو او له افغانستان، چین، هند، د ایران د اسلامي جمهوریت، قزاقستان، قرغزستان، پاکستان، د روسیې فدراتیف، تاجکستان او ازبکستان څخه د لوړ پوړو چارواکو د کچې د مسکو فارمټ اوومه ناسته په مسکو کې ترسره شو. په یوه ګډه اعلامیه کې چې تر ناستې وروسته خپره شوه، ګډونوالو د "یوه خپلواک، متحد او سوله ییزه دولت په حیر د افغانستان د رغوونې لپاره خپل ملاتړ" یو ځل بیا تایید کړ. په عین ورځ، برحاله د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي د روسې فدراتیف د بهرنیو چارو له وزیر سرګې لاروف سره ولیدل، او د راپورونو له مخې یې د دوه اړخیزو اقتصادي او سیاسي همکاریو په اړه خبرې اترې ترسره کړې.

۲۴. د سپتمبر پر ۶ او ۷ نېټه، د ازبکستان د ستراتیژیکو او سیمه ییزو مطالعاتو له انستیتوت څخه یوه پلاوي له کابل څخه لیدنه وکړه چې د پانګونې او انرژۍ سکتور په اړه په کنفرانس کې ګډون وکړي. د سپتمبر له ۱۴ تر ۱۷ نېټې پورې د ایران له اسلامي جمهوریت څخه د صنعت، معادنو او سوداګرۍ وزیر سید محمد اتابک په مشرۍ لوړ پوړي اقتصادي او سوداګریز پلاوي له کابل څخه لیدنه وکړه، د راپورونو له مخې څو د سوداګریزو اړیکو پراخول وڅېړي، د سوداګرۍ په وړاندې خنډونو ته رسیدګي وکړي او د ګډې پانګوونې په موخه فرصتونه په ګوته کړي.

۲۵. د اکتوبر له ۹ تر ۱۶ نېټې پورې، برحاله د بهرنیو چارو وزیر له نوي ډهلي څخه لیدنه وکړه چیرې چې هغه د هند د بهرنیو چارو له وزیر د نورو لوړ پوړو چارواکو سره ولیدل. دغه لیدنه د ۲۰۲۱ کال له اګست راهیسې هند ته د برحاله بهرنیو چارو وزیر تر ټولو د لوړې کچې لیدنه ګڼل کېږي. د دغې لیدنې پرمهال، د هند دولت په کابل کې د موجوده تخنیکي ماموریت د سفارت تر کچې د لوړولو او د شاژدافیر د ګمارنې اعلان وکړ.

۲۶. یوناما په کابل کې له میشتو ډیپلوماتیکو ماموریتونو د ناستو د تنظیمولو، د سیمه ییزو پلاوو له لیدنو د مرستې او د ترانسپورت، سوداګرۍ او د بشري مرستو دهلیزونو ته د لاسرسي په اړه په ګڼ اړخیزو نوښتونو کې د افغانستان ګډون ته د ودې له لارې له سیمه ییزې همکارۍ سره خپل ملاتړ جاري ساتلی.

**دریېم. بشري حقونه**

۲۷. په افغانستان کې د اکتوبر د ۱۰ او ۱۷ نیټو ترمنځ د برحاله او پاکستاني امنیتي ځواکونو ترمنځ نښتې د لږ تر لږه ۵۰۳ ولسي مرګ ژوبلې (۵۰ مړه او ۴۵۳ ټپیان) لامل شوي. زیاتره ولسي مرګ ژوبله په سپین بولدک او کابل کې د هوایي بریدونو او د پوځې په اوږدو کې د ډزو په پایله کې رامنځ ته شوې. برحاله د استخباراتو لوی ریاست یوناما ته په لیکلې بڼه خبر ورکړی چې د اکتوبر د ۱۵ نېټې هوایي بریدونه د "ګڼ شمېر ولسي مرګ ژوبلې" لامل شوي او د پاکستان د پخواني ترون چې نور به بریدونه نه ترسره کوي سرغړونه ګڼل کېږي.

۲۸. ناچاوده مهمات لا اوس هم ولسي وګړو زیاتره ماشومانو ته د زیان لامل کېږي. د راپور ورکولو په موده کې، ټولټال ۸ ولسي وګړي (۲ سړي او ۶ ماشومان) وژل شوي او ۲۹ نور (۳ سړي، ۱ ښځه، ۶ نجونې او ۱۹ هلکان) ژوبل شوي. افغانستان د نړۍ په کچه د ناچاوده مهماتو له امله د مرګ ژوبلې تر ټولو لوړه کچه لري، چې لږ تر لږه هره ورځ یو کس ژوبل یا وژل کېږي. په ۲۰۲۴ کال کې د ورته مودې په پرتله د ځواب ویلو فعالیتونو لکه سروې ګانې، ارزونې، ماین پاکې، د ناچاوده مهماتو په اړه پوهاوی او د قرباني مرسته کې د تمویل د کمښت له امله ۴۲ سلنه کموالی راغلی.

۲۹. د پخواني حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د پخوانیو غړو په خلاف د بشري حقونو د سرغړونو په اړه اوس هم خبر ورکول کېږي. یوناما د پخواني حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د پخوانیو غړو لږ تر لږه ۶ له محاکمې پرته وژنې، ۲۴ خپلسرې نیونې او توقیفونې، د شکنجې او ناوړه چلند ۶ موارد مستند کړي.

۳۰. د راپور ورکولو په موده کې، یوناما د زنا، له کور څخه د تېښتې، همجنس بازۍ، د الکولو د څښاک او قمار په ګډون د یو لړ جرمونو لپاره د بدني سزا چې د برحاله چارواکو له خوا ترسره شوې ۲۱۵ موارد (د ۴۲ ښځو، ۱۷۰ سړیو، ۲ نجونو او ۱ هلک په وړاندې) مستند کړي.

۳۱. د اکتوبر پر ۱۶ نېټه په بادغیس ولایت کې، د یوې ښځې او یوه سړي د وژنې په تور په عام محضر کې د یوه سړي اعدام ترسره شو د چا سزا چې د برحاله درې واړو محکمو (ابتدائیه، استیناف او سترې محکمې) له خوا تایید شوې وه. ځایي خلکو، برحاله والي او نور چارواکو د اعدام په مراسمو کې ګډون کړی و، کوم چې په قضایي ډول د ورکړل شوې سزا یولسم د عامه محضر اعدام و چې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ راهیسې په افغانستان کې ترسره کېږي.

۳۲. د جولای د ۱ او د سپتمبر د ۳۱ نېټو ترمنځ، د افغانستان د ماشومانو او وسله والې جګړې د څارنې او راپور ورکونې هیوادنۍ کاري ځواک نږدې ۱۶۰ سختې سرغړونې مستند کړي چې د ۱۷ نجونو په ګډون لږ تر لږه ۹۰ ماشومان یې اغېزمن کړي. په تر ټولو زیاتو معمولو سرغړونو کې وژل او ژوبلول، له بشري مرستې څخه حرمان او پر ښوونځیو او روغتونونو بریدونه شامل دي، کوم چې ټول یو ځای د ټولو مستند شویو سرغړونو لږ تر لږه ۹۰ سلنه جوړوي.

۳۳. د سپتمبر پر ۲۰ نېټه، برحاله د عدلیې وزارت یو طرزالعمل خپور کړ چې د برحاله چارواکو له استازو او ځایي ټولنو سره د ناستو او د پوهاوي د لوړولو غونډو د ترسره کولو له لارې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون د تطبیقولو په موخه په هر ولایت کې د اجرائیه کمیټې د جوړولو غوښتنه کوي. په ځینو مواردو کې د نوموړي قانون په مراعاتولو کې پاتې راتلل د

خپلسرې نیونې او د بند د اوږد مهالو سزاګانو په ګډون د شدیدو مجازاتو لامل شوي. د مثال په ډول، د سپتمبر پر ۱۲ نېټه د کونړ ولایت په خاص کونړ ولسوالۍ کې په یوه عامه محاکمه کې، د دوه سلمانیو څښتنان یو د بږیرو د جوړولو او بل په "غربي سټایل" د وېښتو جوړولو په تور له دریو تر پنځو میاشتو په بند محکوم شول.

۳۴. د اګست پر ۲۹ نېټه، د ملګرو ملتونو د جنډر د برابرۍ او د ښځو د ځواکمنتیا ادارې (UN-Women) د نوموړې ادارې له خوا د کور په کور ترسره شویو سروې ګانو پر بنسټ د "طالبانو د واکمنۍ څلور کلونه: څومره چې محدودیتونه سختېږي افغان ښځې مقاومت کوي" تر عنوان لاندې یوه شننه خپره کړه. د دغې سروې له موندنو سره سم، له ۱۰ هر ۹ افغانان د نجونو پر زده کړو د بندیز مخالف دي، او ۴۳ سلنه افغان ښځو او سړیو خبر ورکړی چې دوي اوس د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه د پخوانۍ مودې په پرتله په عام محضر کې لږ خبرې کوي.

۳۵. د اګست په وروستیو کې، برحاله چارواکو په یو شمېر ولایتونو له شپږم ټولګي پورته د نجونو لپاره د یو شمېر مدرسو د تړلو لپاره ګامونه پورته کړي. د مثال په ډول د اګست پر ۲۳ نېټه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت محتسبینو د پولیسو په ملتیا په کابل کې د ادعاوو له مخې د حجاب اصولو د ماتولو، او له شپږم ټولګي پورته د زده کوونکو د شاملولو او د ریاضي، کیمیا، فیزیک او بیالوژي په څېر د "معاصرو سیکولري مضامینو" د تدریس تور د نجونو پرمخ درې مدرسې وتړلې. په ورته ډول شا و خوا د اګست پر ۲۶ نېټه د بدخشان ولایت په زیبک ولسوالۍ کې د امر بالمعروف محتسبینو له ۱۳ کلنۍ د پورته عمر نجونو ته امر وکړ چې مدرسو ته له تګ څخه منع شي.

۳۶. د سپتمبر په میاشت کې، د راپورونو له مخې برحاله چارواکو د پوهنې پر سکتور نور هم بیا کتنه وکړه. د سپتمبر په ۱۲مه، رسنیزو سرچینو راپور ورکړ چې له لومړي څخه تر دولسم ټولګي پورې د ښوونځیو له نصاب څخه ۵۱ موضوعګانې، چې مدني ارزښتونه، بشري حقونه، شیعه اسلام او نړیوالو بنسټونو ته اشارې، لرې شوې دي. پر دې سربېره، له لوړو زده کړو پروګرامونو څخه ۱۸ موضوعګانې لرې شوې، چې په کې د ښځو د مطالعاتو اړوند ۶ موضوعګانې هم شاملې دي، او ۲۰۰ نورې موضوعګانې د بیاکتنې لپاره په نښه شوې ترڅو د طالبانو د اسلامي اصولو له تعبیر سره سمون ولري. د سپتمبر په ۱۹مه، نورو راپورونو وښودله چې پ
وهنتونونو ته لارښوونه شوې وه چې د محتوا یا لیکوال د تابعیت په پام کې نیولو پرته، د ښځو لخوا لیکل شوي کتابونه او ۱۴۰ نور داسې سرلیکونه چې "د شریعت خلاف" بلل شوي، له خپلو نصابونو څخه لرې کړي. د بشري حقونو او جنسي ځورونې تدریس منع شو.

۳۷. د تبعیضي محدودیتونو د تطبیق له امله روغتیایي خدمتونو ته د ښځو لاسرسي لا اوس هم په سخت ډول محدود دی. د ښځو د طبي زده کړو د پروګرامونو لکه د قابله ګۍ د زده کړو پروګرامونو دوامدار بندښت د میندو د مړینو د لوړو کچو لامل شوی. د سپتمبر پر ۲۲ نېټه په کندهار کې د برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت چارواکو د غاښونو نارینه ډاکټرانو ته امر وکړ د ښځینه ناروغانو له درملنې ډډه وکړي او کلینیکونو ته یې لارښوونه وکړه چې د غاښونو ښځینه ډاکټرانې وګماري. د ۲۰۲۴ کال د ډسمبر له ۲ نېټې راهیسې ښځې د ستوماتولوژي په ګډون د طبي زده کړو له لوستلو څخه منع شوې.

۳۸. برحاله د زندانونو د چارو د سمون ادارې خبر ورکړ چې د جولای په نیمایي کې په زندانونو کې د بندیانو شمېر نږدې ۲۹،۵۰۰ و، چې د طالبانو له خوا د واک له نیولو راهیسې تر ټولو لوړ شمېر ګڼل کېږي. د اګست په وروستیو کې، د طالبانو مشر د سترې محکمې په مشرۍ یو نوی پلاوي ته لارښوونه وکړه چې له زندانونو لیدنه وکړي او هغه بندیان معلوم کړي چې د احتمالي خوشې کېدو یا د سزا کمولو وړ وي. د اکتوبر پر ۳۰ نېټه، برحاله د زندانونو د چارو د سمون ادارې خبر ورکړ چې له

۲،۲۶۰ څخه ډېر بندیان چې د خپل بند دوه پر دریمه برخه یې بشپړه کړې وه خوشې شوي او د نږدې ۲۶۰۰ نورو بندیانو چې د خپل بند یو پر دریمه برخه یې بشپړه کړې وه، سزاګانې کمې شوې. له دغو هڅو سره سره، د نومبر تر لومړۍ نیټې پورې، نوموړې اداري راپور ورکړ چې په زندان کې د دوي د بندیانو شمېر د 30,000 څخه تر 32,000 پورې و. د بندیانو د خوشې کولو لپاره قضایي هڅې د نیولو او توقیف له کچې سره برابرې نه وې.

۳۹.	له هغو سلا مشورو او ارقامو سره سم چې د اګست په میاشت کې د ښځو چارو لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر، د کډوالۍ نړیوال سازمان او یوناما له خوا راغونډ شوي، افغان ښځو او نارینه وو څرګنده کړه چې انټرنیټ د دوي د معلوماتو غوره سرچینه وه ګڼل کېږي، که څه هم محدود و. د ډېری ښځو لپاره، د انټرنیټ وصل د اړیکو او زده کړو ته د لاسرسي یوه مهمه وسیله ګڼل کېږي. د ۲۰۲۱ کال له اګست راهیسې د پیغام رسولو پر شخصي پروګرامونو باور زیات کم شوی دی، ځکه چې د څارنې زیاتوالی او د تلیفون فزیکي لټون ښځې او نارینه د دغو مخابراتي/ارتباطي وسیلو له کارولو څخه ګرځوي. مشوره شویو ښځو خبر ورکړی چې د هوښیار موبایل کارول په ښکاره ډول په لږ تر لږه نهو ولایتونو کې منع دي او دا چې ټولنیز نورمونه او کورنۍ فشارونه په نورو ځایونو کې هغوي ته لاسرسی محدودوي. که څه هم دغه مشورې د سپتمبر او اکتوبر په میاشت کې د فایبر- نوري خدماتو له بندېدو دمخه ترسره شوې وې، خو موندنې د ډیجیټلي فضا د محدود کېدو ښکارندوی وې.

۴۰.	د راپور ورکولو په موده کې، په افغانستان کې د رسنیو آزادي د پام وړ ننګونو سره مخ وه. د اکتوبر پر ۱۷ نېټه، برحاله د استخباراتو لوی ریاست د یوې خصوصي رسنۍ د تړلو امر وکړ، چې د اکتوبر پر ۱۹ نېټه بېرته د فعالیت بیا پیلولو اجازه ورکړل شوه. برحاله چارواکو پر رسنیو فشارونه زیات کړي دي، د ژوندیو موجوداتو د انځورونو پر خپرولو د بندیز په څېر محدودیتونه یې پراخ کړي دي، چې د هیواد له نیمايي څخه په زیاتو ولایتونو کې یې رسنۍ په مختلفو درجو اغیزمنې کړې دي.

۴۱.	د اکتوبر پر ۶ نېټه، د بشري حقونو شورا د افغانستان په اړه یو پریکړه لیک تصویب کړ، چې د ځانګړي راپور ورکوونکي ماموریت یې د یوه کال لپاره وغځاوه او یو خپلواک تحقیقاتي میکانیزم یې رامنځته کړ. د اکتوبر پر ۸ نېټه، د افغانستان د ښځو لپاره د خلکو محکمې، چې د افغانستان د مدني ټولنې له استازو، نړیوالو حقوق پوهانو، څارنوالانو او قربانیانو څخه تشکیل ده، په مادرید کې علني استماعیه غونډه پیل کړه ترڅو د طالبانو مشران په سمبولیک ډول په افغانستان کې د ښځو او نجونو د سیستماتیکې ځپنې په ګډون د بشریت پر وړاندې د ادعا شویو جرمونو لپاره محاکمه کړي.

**څلورم. اقتصادي پراختیا، د مرستندویانو همغږي او د مرستو مؤثریت**

۴۲.	د اقتصادي راپور پر بنسټ چې د نړیوال بانک له خوا په اکتوبر کې خپور شوی، د هیواد لیدلوری د بهرنیو شاکونو لکه د بشري مرستو کمښت، له ایران او پاکستان څخه د راستنیدونکو راتګ او په اقلیم پورې اړوند اختلالاتو تر اغیز لاندې دی. دغه شوکونه زیانمنتوب زیاتوي، اقتصادي فعالیتونه محدودوي او د معیشت او خوړو خوندیتوب خطرونه زیاتوي. د اقتصادي ودې کچه د نفوسو د کلنۍ ودې ۲.۴ سلنې کچې ته نږدې پاتې شوه، چې په ۲۰۲۵ کال کې د سړي سر عاید کې د حد اقل زیاتوالی ښکارندوی دی. د امریکا د ډالر په وړاندې د افغانیو ارزښت میاشت په میاشت ۳ سلنه لوړ شوی، چې په سپتمبر کې له ۶۸.۴ څخه په اکتوبر کې ۶۶.۳ ته ورسېده، چې اصلي لامل یې ستره اقتصادي وده ده.

۴۳.	د نومبر تر ۱۵ نېټې پورې، شاوخوا ۲.۴۶ میلیونه خلک افغانستان ته راستانه شوي، چې په کې ۱.۷۶ میلیونه د ایران له اسلامي جمهوریت څخه او له ۷۰۷،۶۷۸ څخه زیات له پاکستان څخه وو، په دوارو قضیو کې ډېری خلک په زور رایستل شوي. په لوړ شمېر کې د راستنیدونکو دغه جریان په ۲۰۲۵ کال کې د نفوس د نږدې ۶ سلنه زیاتوالی ښکارندوی دی (د وګړو د

کلنۍ ۲.۴ طبیعي ودې سرېره). په راتلونکو کې دغه زیاتوالی د روانو سیمه ییزو کړکیچونو او په پالیسۍ کې د دوو مهمو بدلونونو له امله رامنځته شو: د ایران د اسلامي جمهوریت له خوا د ۲.۶ میلیون څخه زیاتو افغانانو لپاره د سر شمېرنې فورمونو د نه تمدید پرېکړه او د پاکستان له خوا د نږدې ۱.۴ ملیون افغان کډوالو لپاره د جون له ۳۰ نېټې څخه وروسته د مهاجر کارتونو د اعتبار موده نه تمدیدول.

۴۴. د کډوالو راتګ د زیانمنونکو راستنیدونکو ترمنځ د مرستې اضافي اړتیاوې رامینځته کړې. د افغانستان د مدني اسنادو نشتوالی یوه جدي ننګونه ګڼل کېږي، د راستنیدونکو ۶۱ سلنه کورنیو خبر ورکړی چې لږ تر لږه د کورنۍ یو غړی یې اسناد نه لري، کوم چې اړینو خدماتو ته د لاسرسي مخه نیسي. د اکتوبر تر میاشتې پورې، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ دفتر په ټول هیواد کې له ۱،۲۳۱،۹۶۳ زیانمنیدونکو اشخاصو سره مرسته کړې، چې د ساتنې، سرپناه ته ښه شوي لاسرسي او د پایښت لرونکې ادغام لپاره د دوامداره حل لارو ودې ته لومړیتوب ورکړی. د کډوالۍ د نړیوال سازمان په مشرۍ د سرحدي کنسورشیم همکارو ادارو د هرکلي او ترانزیت په مرکزونو کې له ۸۸۶،۵۹۰ راستنیدونکو سره مرسته وکړه، چې په کې د ایران او پاکستان څخه ۱۴۲،۵۰۰ مستند او غیر مستند راستنیدونکي شامل وو چا ته چې د خوړو نړیوال پروګرام د خوړو لپاره ټولټال ۱.۷ ملیون ډالر نغدي او نږدې ۳۰۰ میټریک ټنه تقویتي بسکټ او مغذي توکي ویشلي.

۴۵. دغو راستنېدو د هیواد لا وار د مخه په محدودو سرچینو او خدمتو باندې زیات فشار راوړی دی، کوم چې د اړتیاوو د اوسنۍ کچې د پوره کولو لپاره، په تېره بیا د مرستو په جریان کې د پام وړ کمولې په پام کې نیولو سره، کافي نه دي. دغه فشار د مالي وجوهو له لاسه ورکولو، او همدارنګه د طبیعي ناورینونو له امله رامنځته شوي زیانمنتوبونو، لکه د اګست په وروستیو او د نومبر په لومړیو کې د سختو زلزلو اغیزو او د اقلیم روان بحرانونو، له امله لا پسې تشدید شوی. لومړنۍ راپورونه د راستنیدونکو ترمنځ ورځ تر بلې زیاتیدونکې نارضایتي څرګندوي، څوک چې له برحاله چارواکو څخه د ځمکې د تخصیص په اړه د نا پوره شویو ژمنو له امله ناراضه دي، او همدارنګه د راستنیدنې په سیمو کې د کوربه ټولنو دننه د کمو سرچینو پر سر د سیالۍ زیاتوالي او د کورونو په کرایه او د ځمکې په بیو کې د ډېر زیاتوالي شخړې شتون لري.

۴۶. صادرات هم تر ډېره بریده د کرنې تر تسلط لاندې دي، چې په سپتمبر کې د حاصلاتو د راغونډولو د پای په موسم کې د زیاتوالي لامل کېږي. د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پراختیا کنفرانس د ډیټا سیسټم له مخې، دغه جریان هغه مهال لا زیات څرګند و کله چې صادرات په اګست کې په چټکۍ سره ۱۷۶ ملیون ډالرو، په جولای کې له ۹۰ ملیون ډالرو او په جون کې له ۶۶ ملیون ډالرو څخه لوړ شول. په عین حال کې، واردات د جولای په میاشت کې له ۱.۱۳ میلیارد ډالرو څخه په اګست کې ۱.۱ میلیارد ډالرو ته راټیټ شول.

۴۷. دغه راز د افغانستان او پاکستان ترمنځ وروستیو سرحدي نښتو او د پولې تړلو سخت بشري او اقتصادي اغیز لرلی دی، چې په افغانستان کې یې سلګونه کورنۍ بې ځایه کړې، حیاتي سوداګري یې مختل کړې، د میوو د فصل په جریان کې کروندګرو ته مالي ستونزې او پراخ زیانونه اړولي او د پولې دواړو غاړو ته د سلګونو زرو خلکو ژوند ګواښي.

۴۸. د سپتمبر پر ۱ نېټه، په اقلیمي بدلونونو پورې اړوند شاکونو او د راستنیدونکو د مخ په زیاتیدونکې راتګ په ځواب کې، د ملګرو ملتونو هیوادنې ټیم د ګډو زیانمنتوبونو شاخص تصویب کړ څو د محدود منابعو د تخصیص په ښه کولو کې مرسته وشي. د دغه شاخص موخه د هغو سیمو لپاره د مرستې پروګرامونه تنظیمول دي چې د اقلیمي بدلونونو له اغیزو، د خوړو نا خوندیتوب او د بیرته راستنیدنې اړوند زیانمنتوبو له سختو فشارونو سره مخ دي. په ۲۰۲۵ کال کې، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ستراتیژیک چوکاټ لپاره تمویل ۱.۵۵ ملیارد ډالرو ته ورسېد، چې د اړینو خدماتو ساتلو او په مقاومت او د

اساسي بشري اړتیاوو پروګرام جوړونې پورې د اړوندو لومړیتوبونو پر مخ بیولو لپاره د اړین ۲.۸۸ بیلیونه ډالرو د مبلغ ۵۴ سلنه تر پوښښ لاندې نیسي.

۴۹.	د اکتوبر تر میاشتې پورې، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د کریډیټ تضمین اسانتیا پروګرام ۷،۴۴۴ کوچنیو او متوسطو تشبثاتو ته ۲۰ ملیون ډالر پورونه ورکړي دي. په دې کې د ښځینه متشبثینو لپاره ۲،۲۲۵ پورونه شامل دي، چې په ښځو پورې اړوند د ۴،۷۰۱ په ګډون د ۱۸،۷۹۱ دندو ملاتړ کوي. سربېره پردې د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د بېرته راستانه شویو د 1085 کوچنیو او متوسطو تشبثاتو لپاره مرسته برابره کړې چې د 2303 دندو حمایت کوي.

۵۰.	ملګرو ملتونو د نغدو پیسو د لیږد اسانتیا برابرول جاري ساتلي. د ۲۰۲۵ کال د جنوري له ۱ څخه د اکتوبر تر ۱۵ نیټې پورې، نوموړي سازمان د ملګرو ملتونو ادارو، ډونرانو او تایید شویو نا دولتي ادارو لپاره ۵۲۰ ملیون ډالر راوړي.

۵۱.	د افغانستان د همغږي ګروپ، چې د یوناما، د نړیوال بانک د ګروپ او اروپایي اتحادیې له خوا یې په ګډه مشري کېږي، د اکتوبر پر ۸ او ۹ نېټه په تاشکند ولیدل. دغې غونډې، چې د ازبکستان د بهرنیو چارو وزارت په کوربتوب ترسره شوه، د افغانانو د اساسي بشري اړتیاوو د پوره کولو د ملاتړ په تمویل کې ښکیل مهم نړیوال شریکباني سره راټول کړل. ګډونوالو د برحاله چارواکو له خوا د هغو ننګونو په ګډون چې په هیواد کې د پرمختګ مخه نیسي، د دوامداره ننګونو په اړه خبرې اترې وکړې. دوي د پیاوړې بشري-پراختیایي-سولې همغږۍ د ښه کولو او د مرستو بودجو کې د پام وړ کمښت په منځ کې د غبرګونونو د لومړیتوب بندي کولو له لارې د افغان وګړو لپاره د مقاومت د غښتلي کولو او د دوامداره حل لارو ملاتړ لپاره لارې چارې وپلټلې.

۵۲.	د اکتوبر پر ۷ نېټه، د افغانستان لپاره د ځانګړي وجهي صندق د رهبرۍ کمېټې په هرات او فراه ولایتونو کې د څلورو ولسوالیو لپاره ګډه پروژه تصویب کړه او نږدې د ۱۷ میلیونه ډالرو په ارزښت یې څلور ګډ نوښتونه تایید کړل. د دغو نوښتونو موخه له ایران څخه د راستانه شویو او په غزني، لوګر او پکتیا ولایتونو کې د نشه یي توکو له اختلالاتو څخه د رغیدلو افرادو له ادغام سره مرسته کول دي. د اکتوبر پر ۳ نېټه، د رهبرۍ کمېټې په دوبۍ ستراتیژیک ډیالوګ ترسره کړ چې د خصوصي سکتور پر تعامل متمرکز و او مشهورو افغان سوداګرو په کې ګډون کړی و.

۵۳.	د هر اړخیزې تګلار له مخې د خصوصي سکتور د کاري ګروپ په کاري چوکاټ کې، یوناما له یو شمېر غړو دولتونو، برحاله چارواکو، د ښځو او نړیوالو شریکانو په ګډون افغان تخنیکي کارپوهانو سره خپله همکاري جاري ساتلې چې د هیواد خصوصي او بانکي سکتورونه پیاوړي کړي. په وروستیو هڅو کې د صنعتي پارکونو په اړه د هیواد په کچه سروې؛ ښځینه نوماندانو ته په لومړیتوب ورکولو له مالي انستیتوتونو سره د کار زده کړې پروګرامونو طرح کول؛ پر نړیوالو معیارونو د افغان تولیداتو د برابرولو په موخه نوښتونه؛ د بانکي تولیداتو له لارې د ښځینه متشبثینو لپاره تمویل ته ښه شوی لاسرسی؛ د تادیاتو د سیستمونو او مالي زیربناوو د غښتلي کولو لپاره اقدامات؛ د کوچنیو پورونو د هغو ادارو لپاره چې نوي یې جواز ترلاسه کړی ظرفیت جوړونه؛ د پیسو مینځلو په ضد/د تروریستي ادارو له تمویل سره د مبارزې او په دې چارو کې ګډون چې برحاله مرکزي بانک دې د داسې فرصتونو په لټه کې شي چې له نړیوالو مالي معیارونو سره د هیواد تطابق تقویه کړي.

۵۴.	د نوښتونو د ملاتړ په موخه اروپایي اتحادیې او د جاپان د نړیوالې همکارۍ ادارې د ۱۶ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د ملګرو ملتونو له پراختیایي پروګرام سره قراردادونو لاسلیک کړل، یو یې د ځايي تشبث د پراختیا له لارې د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا په اړه چې د اروپایي اتحادیې له خوا تمویل شوی، او بل هغه یې په سرحدي سیمو کې د اقتصادي فعالیت

د ودې له لارې د ښځو د معیشتونو د ښه کولو په اړه، چې جاپان د نړیوالې همکارۍ د ادارې له خوا تمویل شوی. د دغو نویو شویو مشارکتونو هدف ټولشموله تشبث پراختیا او مالي خدمتونو ته د افغان میرمنو د لاسرسي غښتلي کول دي.

۵۵. د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندق (یونیسف)، د خوړو له نړیوال پروګرام او د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان سره په مشارکت کې د ملګرو ملتونو د ګډ پروګرام له لارې نږدې ۸ میلیونه ډالر بسیج کړي. دغه تمویل به د سوء تغذیې اصلي لاملونو ته د رسیدګۍ لپاره وکارول شي.

**پنځم. بشري مرستې**

۵۶. د افغانستان خلک له څو اړخیز بحران سره مخ دي چې د طبیعي پیښو او اقلیمي شاکونو په وړاندې د زیانمنتوب، د پولې له هاخوا د بې ساري شمیر راستنیدونکو، اړینو خدماتو ته محدود لاسرسي او یو نازک اقتصاد خاصیت درلودونکی دی، کوم چې د خوړو د شدید ناخوندیتوب، خوارځواکۍ او مزمن فقر لامل کېږي. ښځې او ماشومان په ځانګړي ډول په دغه چاپیریال کې له خطر سره مخ دي.

۵۷. د اګست پر ۳۱ نېټه، د ۶ درجې زلزلې د افغانستان ختیځ ولړځاوه، چې نږدې نیم میلیون خلک یې متاثر کړل. په زلزله کې او تر هغې وروسته شاکونو کې له ۲۱۰۰ څخه زیات خلک ووژل شول او ۳۶۰۰ نور ژوبل شول، سرکونه ویجاړ شول، چې غرنیو کلیو ته یې لاسرسی په ځانګړي ډول ستونزمن کړی و. ښځو او نجونو د وژل شویو خلکو ۵۲ سلنه او د ژوبل شویو هغو ۵۴ سلنه جوړوله، کوم چې د ناورین پر مهال او تر هغه وروسته له خطرونو سره د هغوی زیات مخ کېدل په ډاګه کوي. په غبرګون کې، د بشري مرستو همکارو ادارو د ژوند ژغورنې بشري مرستونو لپاره ۲۰۴۰۰ خلک په نښه کړل چې ۱۱۱.۵ ډالرو ته اړتیا لري. لومړیتوب دا دی چې د هوا له سړېدو سره سم غبرګون ته دوام ورکړل شي، په ژمنیو مرستو، د کمپ پر مدیریت او د بېځایه کیدنې په ځایونو کې د اوبو او روغتیا ساتنې اسانتیاوو پر غښتلي کولو تمرکز وشي. د نومبر پر ۳ نېټه، د ۶.۳ درجې زلزلې د افغانستان شمال ولړځاوه. لومړنۍ ارزونې په ډاګه کوي چې لږ تر لږه ۲۶ خلک وژل شوي، له ۱۱۷۲ څخه زیات خلک ژوبل شوي او له ۸۷۴ څخه زیات کورونه زیانمن یا ویجاړ شوي. بیړنۍ سرپناوې، تودې جامې، د تودولو او سونګ توکو لپاره نغدې پیسې، او د زیانمن شویو کورونو لپاره د رغونې بستې د بیړنیو لومړیتوبونو په څېر په ګوته شوي.

۵۸. د نومبر تر ۷ نېټې پورې، د بشري اړتیاوو او د غبرګون پلان ۳۵.۷ سلنه تمویل شوی و، د ۲.۴۲ بیلیونه د اړتیا وړ مبلغ څخه ۸۶۳.۹ میلیونه ډالر ترلاسه شوي وو. ترلاسه شوی مبلغ د بیړنیو لومړیتوبونو لپاره د اړتیا وړ ۱.۶۲ بیلیونو ۵۳ سلنه وړاندې کوي. د افغانستان لپاره د کېوالو د سیمه ییز غبرګون پلان لپاره نړیوال ملاتړ په اندېښمنوونکي ډول ټیټ دی، چې د اړتیا وړ ۶۲۲ ملیون ډالرو څخه یوازې ۵۹.۱ ملیون ډالر (۹.۵ سلنه) ترلاسه شوي دي.

۵۹. له جنورۍ څخه تر اګست پورې، د بشري مرستو همکارو ادارو د ۲.۷ میلیونه هغو وګړو په ګډون چا چې لږ تر لږه درې ډول مختلفه مرسته ترلاسه کړې، د ۱۳.۲ میلیونه خلکو لپاره لږ تر لږه یو ډول مرسته برابره کړې. په دې کې ۹.۲ میلیونه هغه خلک چې د خوړو او معیشت مرسته یې ترلاسه کړې، ۵.۷ میلیونه هغه خلک چې روغتیایی مرسته یې ترلاسه کړې، ۱۳.۲ میلیونه هغه خلک چې اوبه، روغتیا پالنې او حفظ الصحې مرسته یې ترلاسه کړې، ۴.۲ میلیونه هغه خلک چې د محافظتي مرسته یې ترلاسه کړې، ۳.۹ میلیونه هغه ماشومان او امیندواره او شیدې ورکوونکې میرمنې چې د تغذیې مرسته یې ترلاسه کړه، ۷۰۲۰۰۰ هغه ماشومان چې د زده کړې ملاتړ یې ترلاسه کړی او ۴۱۸۰۰۰ هغه خلک چې د بیړنۍ سرپناه او غیر خوراکي توکي مرسته یې ترلاسه کړې، شامل دي.

۶۰. د خوړو ناخوندیتوب اوس هم شدید دی. د روغتیا سکتور د ښځو او ماشومانو په سوء تغذیې د سخت زیاتوالي خبر ورکړی – چې په ۲۰۲۴ کال کې د ورته مودې په پرتله ۱۵ سلنه لوړ دی. د راپور ورکولو په موده کې، د خوړو نړیوال پروګرام ۳.۴ میلیونه خلکو ته مرستې برابرې کړې، له ۱۷۰۰۰ مټریک ټنو څخه زیات خواړه او ۱۱ میلیونه نغد ډالر یې ویشلي؛ له دې سره سره په میلیونونو نور خلک د راتلونکي ژمني موسم لپاره له مرستې پرته پاتې شول. د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې ادارې په افغانستان کې زیانمنیدونکو د ټیټې کچې کروندګرو او شپانو په ګډون ۲۳۵۷۴۰ خلکو ته اړینې بشري مرستې او د اساسي اړتیاوو ملاتړ رسولی، چې پر ښځو پر متمرکزو مداخلتونو، د حیواني روغتیا پر خوندیتوبونو او د حاصلاتو له لاسه ورکولو څخه پر مخنیوي یې ټاکید کاوه.

۶۱. له جولای څخه تر سپتمبر پورې، د روغتیا نړیوالې ادارې د شدید اوبلن اسهال ۶۵۱۷۹ قضیې، د ډنګې تبې ۹۰۹ شکمنې قضیې، او د کریمیا-کانګو د وینې بهیدونکي تبې ۵۷۷ شکمنې قضیې ثبت کړې. د روغتیا او تغذیې ګرځنده ټیمو په لرو پرتو سیمو کې له ۱.۳ میلیونو خلکو لپاره سلا مشورې برابرې کړې. خو د تمویل د کمښت له امله ۴۲۲ روغتیایي مرکزونه تړل شوي چې په ۳۰ ولایتونو کې ۳.۰۸ میلیونه خلک اغیزمنوي.

۶۲. د ۲۰۲۵ کال اګست له ۱ نېټې حخه د اکتوبر تر ۱۵ پورې، یونیسف په ۲۴۰۰ روغتیایي مرکزونو کې د اړینو روغتیایي خدمتونو په برابرولو کې مرسته کړې. نږدې ۱۵۳۰۰۰ ماشومانو د شري واکسین، او ۱۵۷۸۲۳ ماشومانو د پنځه ظرفیتي واکسینو دریېم ډوز ترلاسه کړي. له ۱.۲۱ میلیونو څخه زیات ماشومان د لاغرۍ لپاره معاینه شوي، او ۶۲۳۶۰ یې د درملنې په موخه بستر شوي.

۶۳. ښځې او نجونې لا اوس هم له ساختاري خنډونو او په جنسیت پورې اړوند محدودیتونو سره مخ دی کوم څه چې اړینو خدمتونو او مرستو ته د هغوی لاسرسی کمزوری کوي. د ۲۰۲۴ کال له ډسمبر راهیسې د ښځو د طبي زده کړو بندول د دې لامل شوی چې د مسلکي ښځینه روغتیایي متخصصینو کمښت زیات شي څوک چې کولی شي د ژوند ژغورنې جنسي، زیږون او د مور روغتیا خدمتونه وړاندې کړي، په داسې حال کې چې افغانستان لا وار دمخه په نړیواله کچه د میندو د مړینې ترټولو لوړه کچه لري، چې په هرو ۱۰۰،۰۰۰ زیږونونو کې ۵۲۱ مړینې لري. د ملګرو ملتونو د نفوس صندوق د تشې د راکمولو په موخه د ډاکټرانو، قابله ګانو، او مشاورینو په ګډون په ټول هیواد کې ۲۵۱۵ افغان ښځینه روغتیایي کارکوونکې ګمارلې.

۶۴. د نومبر پر ۴ نېټه، د ملګرو ملتونو ادارو او همکارو ادارو د برحاله ولایتي چارواکو له خوا د اکتوبر پر ۳۰ نېټه د صادر شویو نویو محدودیتونو وروسته، د کومو له مخې چې پر پوله ښځینه داخلي کارمندانې د مرستې له برابرولو منع شوي، د هرات ولایت د اسلام قلعه د هرکلي په مرکز کې په مؤقت ډول خپل عملیات بند کړل. د بشردوستانه مشرتابه او همکارو ادارو تعامل د کم شمیر ښځینه روغتیایي کارمندانو په شتون او د جنسیت له مخې له تفکیک شویو کلینیکي ترتیباتو سره د راستنیدونکو لپاره د ژوند ژغورنې روغتیایي خدمتونو د بېرته پیل کېدو لامل شو. یوناما او بشري ټولنه د محدودیتونو د لرې کولو په ملاتړ خپلې مدافعې ته دوام ورکوي، او ټینګار کوي چې افغان ښځینه پرسونلو شتون د خوندي، اصولي او باعزته مرستو رسولو لپاره اړینې دي - په ځانګړي ډول د ښځو او ماشومانو لپاره څوک چې د راستنیدونکو له ۶۰ سلنې څخه ډیره برخه جوړوي. د ملګرو ملتونو ادارو او د بشري مرستو همکارو اداو ویلي چې عملیات به یوازې هغه وخت په بشپړ ډول بیرته پیل شي کله چې شرایط اجازه ورکړي.

۶۵. د ملګرو ملتونو دفترونو ته د افغان ښځو پر ننوتلو د بندیز په پایله کې، د جنډر ان هیومنټرین اکشن کاري ګروپ او د بشري مرستو د لاسرسي کاري ګروپ تر ټولو وروستۍ سروې چې په اکتوبر کې ترسره شوه، ومونده چې د ملګرو ملتونو ۷۴ سلنه

ښځینه کارکوونکي له کوره کار کوي، چې دا کچه په جون کې ۳۲ سلنه وه، او ځواب ویونکو د اضطراب، انزوا او رواني فشار زیاتوالي خبر ورکړی. نږدې ۴۰ سلنه بشري مرستو او پراختیایي شریکباڼو راپور ورکړی چې د محدودو سرچینو له امله د ښځو د له ګډون سره د ترلو لګښتونو، لکه هغه چې د محرم شرط پورې تړاو لري، په پوره کولو کې ستونزې لري. د ساتنې د کلستر ارزونې په ډاګه کوي چې ۳۸ سلنه ښځې او نارینه د ښځینه مرستندویه کارکوونکو د نشتون له امله مرستې ته په لاسرسي کې له ستونزو سره مخ دي.

۶۶. د بشري مرستو همکارو ادارو د جنوري د ۱ نېټې او د سپتمبر د ۱ نېټې ترمنځ په ټول افغانستان کې د لاسرسي د ۸۳۲ پېښو راپور ورکړی، چې د بشري مرستو د ۴۵۶ فعالیتونو د بندېدو لامل شوي. په دغو پېښو کې د ملګرو ملتونو د ۱۲ کارمندانو په ګډون د ۱۲۴ کارمندانو بندي کول شامل دي. په داسې حال کې چې د ۲۰۲۴ کال د ورته مودې په پرتله د پېښو ټولټال شمېر ۳۸ سلنه کم دی، دغه کموالی په تمویل کې د کمښت له امله د بشري مرستو په چارو کې کموالي ته منسوبېږي.

**شپږم. له نشه يي توکو سره مبارزه**

۶۷. په ۲۰۲۲ کال کې د برحاله چارواکو له خوا د کوکنارو پر کښت له بندیز وروسته په افغانستان کې د آپیومو اقتصاد کې تاریخي کموالی رامنځ ته شوی. له نشه يي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې د دفتر له خوا د نومبر پر ۶ نېټه د خپرې شوې سروې له مخې په افغانستان کې د کوکنارو کښت د ۲۰۲۴ کال په پرتله په ۲۰۲۵ کې ۲۰ سلنه راکم شوی ، او آپیومو په تولید او قاچاق کې په سیمه کې ستر بدلونونه رامنځ ته شوي. د آپیومو له خرڅلاو څخه د کروندګرو عاید په ۲۰۲۱ کال کې د اټکل شوي ۱.۷ –۲.۵ میلیارد ډالرو څخه په ۲۰۲۵ کال کې نږدې ۱۳۴ میلیونه ډالرو ته راټیټ شو.[3] دا د غیرقانوني نشه توکو په ډګر کې د راپورته کیدونکو خطرونو لکه د مصنوعي نشه توکو لکه میتامفیتامین زیات تولید او قاچاق؛ د له منځه وړلو کمپاینونو سره تړلې ځایي ناکرارۍ؛ او سیمې ته د کوکنارو د کښت خپریدل، سره همزمان و. د دغه کمښت دوام د سختې وچکالۍ، د مرستو د جریان کمېدو او د پراخو راستنېدو په پام کې نیولو سره کوم چې د کلیوالي سیمو زیانمنتوب لا پسې زیاتوي، نازک ګڼل کېږي.

۶۸. له جون څخه تر اکتوبر پورې، د ملګرو ملتونو له نشه يي توکو سره د مبارزې پروژې، له ۱۵۱ میلیونه څخه ۴۹ میلیونه ډالرو ته د بودجو په لوېدو سره، له ۴۰ څخه ۲۲ ته راکمې شوي. له نشه يي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر د قانوني فصلونو ویش او تنوع، د مالدارۍ، د اوبو لګولو زیربنا او بازار ته د لاسرسي نوښتونو له لارې له 10,994 بزګرو کورنیو سره مرسته کړې، چې 21 سلنه کورنیو مشري د ښځو له خوا کیده. د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام د کوکنارو د کښت په کلیدي ولایتونو – بادغیس، بلخ، هلمند او کندهار – کې د ۸۰۲۶ هکتار ځمکې پر سره د اوبو د مدیریت د زیربنا د ښه کولو په موخه ۱۸ فرعي پروژې ترسره کړې چې له ۶۵۰۰۰ څخه زیاتو کورنیو ته ګټه رسوي. د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې له سازمان، د کډوالۍ له نړیوالې ادارې، له نشه يي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې له دفتر سره په همکارۍ، د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام د شنو خونو د جوړولو، د تشبث د بسپنو، د کرنیزې سوداګرۍ د پراختیا او اوبو د مدیریت د پلانولو له لارې د معیشتونو له تنوع سره مرسته کړې. د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام پور ته د افغان کرنیزې سوداګرۍ لاسرسی او په نړیوالو او ملي نندارتونو کې د هغوی ګډون تسهیل کړی. په ۱۴ ولایتونو کې د مسلکي روزنیزو مرکزونو له لارې ټولټال ۱۱۵۱۹ ګټه اخیستونکو د نشه يي توکو د کارونې د مخنیوي، درملنې، رغېدنې او ادغام خدمتونه ترلاسه کړي. د روغتیا

[3] له نشه يي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې د دفتر د ۲۰۲۵ کال آپیوم سروی (ویانا ۲۰۲۵). پر دغې ویبپاڼې وګورئ:
https://www.unodc.org/documents/ crop-monitoring/Afghanistan/Afghanistan_Opium_Survey_2025.pdf.

نړیوالې اداري د هیواد په کچه د ښځو لپاره د درملنې د لومړي کلینیک په ګډون له ۱۶ کلینیکونو سره مرسته کړې. د زیان د کمونې خدمتونه د بندیانو او تزریقي نشه توکونو د کاروونکو په ګډون له ۲۱۰۰۰ څخه زیاتو افرادو ته رسیدلي.

۶۹. د هر اړخیزې تګلار له مخې د نشه يي توکو په اړه د کاري ګروپ په کاري چوکاټ کې غړو دولتونو، برحاله چارواکو، د ښځو او نړیوالو شریکانو په ګډون افغان تخنیکي کارپوهانو د کوکنارو پخوانیو کروندګرو، هغو کسانو لپاره چې نشه يي توکي کاروي، د نشه يي توکو د کارونې د مخنیوي او درملنې، او د نشه يي توکو قاچاق ته د قانون د انفاذ او جنايي عدالت غبرګونونو اړوند موضوعاتو رسیدګي جاري ساتلې. په هغو کې د برحاله وزارتونو د ننه داخلي همغږۍ ته د ودې ورکولو په موخه سلا مشورې او د غړو دولتونو او برحاله چارواکو ترمنځ د دغو درې ساحو په اړه، ښځو ته له ځانګړې پاملرنې سره همکاري او ګډې هڅې شامل دي.

## اووم: د ماموریت ملاتړ

۷۰. د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې، په یوناما کې د نړیوالو کارکوونکو لپاره د تشو بستونو کچه ۲۰ سلنه، د ملګرو ملتونو د نړیوالو رضاکارانو لپاره ۲۴ سلنه، د ملګرو ملتونو د داخلي رضاکارانو لپاره ۱۵ سلنه، د ملي مسلکي افسرانو لپاره ۱۹ سلنه او د داخلي عامه خدمتونو د کارکوونکو لپاره ۱۳ سلنه وه، چې د دې په پرتله په ترتیب سره تائید شوې کچه ۸.۳ سلنه، ۹.۳ سلنه، ۵ سلنه، ۱۵.۵ سلنه او ۱۱.۲ سلنه ښودل شوې ده. د ښځینه کارکوونکو تناسب د نړیوالو کارکوونکو لپاره ۳۴ سلنه، د ملګرو ملتونو د نړیوالو رضاکارانو لپاره 39 سلنه، د ملګرو ملتونو د داخلي رضاکارانو لپاره ۱۰ سلنه، د ملي مسلکي افسرانو لپاره ۹ سلنه او د عامه خدمتونو د داخلي کارکوونکو لپاره ۱۱ سلنه دی.

## اتم: مشاهدې

۷۱. له نسبي امنیت او اوسنې ستر اقتصادي ثبات سره سره، افغانستان له ژورې بې وزلۍ، زیاتېدونکو بشري اړتیاوو او د بنسټیزو حقونو له دوامدرې نابودۍ سره مخ دی. د برحاله چارواکو محدودوونکې پالیسۍ ګانې په تېره بیا د ښځو او نجونو په تړاو، د بشري حقونو د ساتنې او ودې او پایښت لرونکې پراختیا په وړاندې ستر خنډ شمېر کېږي او له نړیوالې ټولنې سره د هیواد د اړیکو کشاله لا پسې ژوروي. هیواد لا اوس هم د نړۍ په کچه د ښځو د حقونو تر ټولو له سخت ناورین سره مخ دی. د کمو شویو بهرنیو مرستو، په لویه کچه د طبیعي ناورینونو او پراخې بېځایه کیدنې تراکمي اغېز ټولنیز-اقتصادي نازکتوب لا پسې ناوړه کړی او د افغان ټولنو د مقاومت ظرفیتونه يې له ازموینو سره مخ کړي.

۷۲. زه په افغانستان کې د ښځو او نجونو پر حقونو د دوامدره وضع شویو محدودیتونو په اړه سخت اندېښمن یم، په تېره بیا د زده کړو، استخدام، د تګ راتګ د آزادۍ او په عامه ژوند کې د ګډون په برخو کې. د نجونو لپاره د ښوونیزو ادارو تړل، په پوهنتونونو کې د ښځو له خوا پر لیکل شویو موادو ممنوعیت او د ملګرو ملتونو دفترونو ته د دغه سازمان ته د افغان ښځینه کارمندانو پر لاسرسي بندیز له نړیوالو بشري حقونو څخه د هیواد له مکلفیتونو څرګندې سرغړونې دي، د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون له مخې د حقونو په ګډون، د کوم چې افغانستان غړی دولت ګڼل کېږي. دغه اقدامات د افغان ښځو او نجونو حقونه لا پسې تضعیفوي، د اړینو خدمتونو وړاندې کول ټکني کوي او د

هیواد راتلونکې پراختیا له جدي ګواښ سره مخ کوي. د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون تطبیق د افغان وګړو بشري حقونه او بنسټیزې آزادۍ ګانې محدودوي. زه همدارنګه له نوموړي قانون سره د تړلو سزاګانو د خپلسرتوب، شدت او نه تناسب په اړه اندېښمن یم. زه یو ځل بیا له برحاله چارواکو د دغو محدودیتونو د لرې کولو غوښتنه کوم.

۷۳. د مرګ سزا د بشري حقونو د نړیوال قانون له اساسي اصولو سره په تطابق کې نه ده. زه له برحاله چارواکو څخه غوښتنه کوم چې اعدامونو د لغوه کولو په پار نور اعدامونه ودروي.

۷۴. د برحاله چارواکو له خوا په ټول هیواد کې د ۴۸ ساعتونو لپاره د مخابراتي خدمتونو بندول له بشري حقونو څخه په ژور ډول اندېښمنوونکې سرغړونه ګڼل کېږي. دغه کار په افغانستان کې پر خلکو او د هیواد پر اقتصادي او ټولنیز سیستم سخت او په ځینو مواردو کې ژوند ګواښوونکې اغیز درلود.

۷۵. له ګاونډیو هیوادونو څخه د افغانانو ستړې راستنېدنې چې تر ډېره په خپله خوښه نه ده، د هیواد د نفوس او اقتصادي ساحه کې د پام وړ بدلون راوستی، هغه خدمتونه یې لا زیات تر ډېر فشار لاندې راوستي چې وار دمخه ډېر محدود وو، طبیعي سرچینې یې کمې کړي او ټولنیز انسجام یې نازک کړی. ډېری راستنیدونکي سرپناه، معیشت او اسناد نه لري، چې دوي یې د خوندیتوب له جدي خطرونو سره مخ کوي. د عواملو دغه تلاقي یو لوړ خطر لرونکی چاپیریال رامنځته کړي چې د ټولنیزو کړکیچونو د زیاتوالي او د نارضایتۍ د زیاتېدو خطر زیاتوي، په ځانګړې توګه د ځوانو راستنیدونکو په منځ کې څوک چې ښایي د تروریستي یا افراطي ډلو له خوا د استخدام په مقابل کې لپاره زیانمنوونکي شي. زه له ټولو غړو دولتونو څخه غوارم چې د کډوالو د اجباري نه ستنولو اصل مراعات کړي او ډاډمن کړي چې ستنیدنې په خپله خوښه، خوندي، باعزته او د ادغام له دوامدار ملاتړ سره مله ده.

۷۶. بشري وضعیت لا اوس هم ناوړه دی. د ۲۰۲۵ کال د بشري اړتیاو او غبرګون پلان او د افغانستان لپاره د کډوالو د غبرګون د سیمه ییز پلان کم تمویل د خوړو د ناخوندیتوب، سوء تغذیې په ځانګړي ډول د ښځو د ماشومانو ترمنځ د ژوروللو ګواښ رامنځته کوي. سربېره پر دې، د دې خطر شته چې د تمویل کمېدل به د بشري اړتیاوو د تېنګېدو [ترسیخ] او د ټولنې د مقاومت د نابودۍ لامل شي. زه له مرسته ورکوونکو څخه غوښتنه کوم چې خپلې مرستې مداومې او زیاتې کړي او د ژمې په راتلونکو میاشتو په اوږدو کې د ژوند ژغورنې عملیاتو او اړینو خدمتونو د ساتلو لپاره د وړاندوینې وړ او انعطاف منونکې تمویل برابرې کړي. پر خلکو د اګست او نومبر د زلزلو اغیزې زړه ماتوونکې دي. زه پر نړیوالې ټولنې غږ کوم چې په ځپل شویو سیمو کې له ساختماني هڅو سره مرسته وکړي، په ځانګړې مخکې له دې چې ژمې پیل شي د میشتځایونو په جوړولو کې.

۷۷. د افغانستان اقتصاد د باندنیو شاکونو او داخلي فشارونو په وړاندې په لوړه کچه زیانمنیدونکی دی. په جزئي ډول د افغانۍ ارزښت له لوړېدو او ثبات سره سره، د مرستو کمېدو او د پیسو لېږلو کمښت د سړي سر عاید او د کورنیو د پیرودلو ځواک په ډراماتیک ډول کم کړی دی. په معیشتو کې رامنځته شوی کمښت، د اقلیم له تکراري ټکانونو سره یوځای، د خوړو د نا خوندیتوب او ټولنیزې بې ثباتۍ خطرونه زیاتوي. د اقتصادي مقاومت او استخدام فرصتونو د پیدا کولو لپاره له کوچنیو او منځنیو تصدیو، ښځینه متشبثینو او راستنیدونکو سره د قوي تعامل له لارې دوامدار او همغږي ملاتړ حیاتي ګڼل کېږي.

۷۸. د کوکنارو پر کښت بندیز سوچه مثبته پایله درلوده، چې په افغانستان کې یې د تولید شوې آپیومو کچه راټیټه کړې. په هرصورت، د کلیوالي عاید له لاسه ورکول، د له ژورې بې وزلۍ او د معیشت له محدودو بدیلونو سره یوځای، د مصنوعي

نشه يي توکو د توليد په ګډون د بې ثباتۍ او غيرقانوني فعاليتونو د زياتوالي خطر رامنځ ته کوي. زه له برحاله چارواکو او نړيوالو شريکبانو غواړم چې د بديلو معيشتونو، کليوالي زيربنا او د زيان د راکمونې پروګرامونو ته اړينه مرسته برابره کړي چې زيانمنيدونکې ټولنې وژغوري او قانوني کرنيزو فعاليتونو ته وده ورکړي، څو ډاډ ترلاسه شي چې دغه لاسته راوړنې پايښت لرونکې دي.

۷۹. د ولسي مرګ ژوبلې کچه چې د برحاله او پاکستاني امنيتي ځواکونو ترمنځ د شخړو له امله رامنځته شوې، د اندېښنې وړ وه. زه د اوربند هرکلی کوم او د جګړې د پايښت لرونکې پای ته رسولو غوښتنه کوم، ترڅو ولسي وګړي خوندي او د نورو ژوند وژغورل شي. زه د قطر او ترکيې په مشرۍ د منځګړيتوب د هڅو هرکلی کوم چې شخړو ته پايښت لرونکي حل لارې پيدا کړي، او له دواړو خواوو غواړم چې خپل اختلافات د ډيپلوماسۍ له لارې حل کړي.

۸۰. زه يو ځل بيا ټولو اړمنو کسانو ته د بشري مرستو د اصولي، بې طرفه او بې خنډه رسونې پر بيړني حالت ټينګار کوم. د ښځو په مشرۍ او ژوند ژغورونکي دوامدار خدمتونه د افغان ښځو او نجونو د وقار، خونديتوب او راتلونکي د ساتنې لپاره خورا مهم دي.

۸۱. د عمومي اسامبلې له ۷۹/۳۱۷ شمېره پرېکړه ليک چې د جولای پر ۷ نېټه تصويب شوی، او د امنيت شورا له ۲۷۲۱ (۲۰۲۳) شمېره پرېکړه ليک سره سم، ملګري ملتونه د افغانانو د ګټې په پار د نړيوالې ټولنې او برحاله چارواکو ترمنځ د لا زياتې منسجمې، همغږۍ او جوړښتي تعامل د هڅولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي. زه له برحاله چارواکو غواړم چې د ملګرو ملتونو له خوا وړانديز شوي هر اړخيزې تګلار څخه له نړيوالې ټولنې سره د تقويه شوي ډيالوګ لپاره د يو پلېټفورم په توګه کار واخلي، ترڅو هغو مهمو موضوعاتو ته رسيدګي وکړي چې يوازې په څو اړخيزه توګه حل کېدی شي او د خپلو نړيوالو مکلفيتونو سره سم په نړيواله ټولنه کې د افغانستان د بيا له يوځای کېدو سره مرسته وکړي.

۸۲. په پای کې، زه زما د سرپرستې او د ځانګړي استازي(سياسي) مرستيالې جورجيت ګانيون، او زما د ځانګړي استازي مرستيال، استوګن او د بشري مرستو همغږي کوونکی اندريکا راتوت تر مشرۍ لاندې د ملګرو ملتونو له ټولو کارمندانو او همکارو غير دولتي مؤسسو څخه چې په افغانستان کې په يوه خورا ننګوونکې چاپېريال کې د پياوړي عزم په درلودلو سره د افغانستان خلکو لپاره د هغوي له دوامدارې فداکارۍ او خدمت څخه د زړه له تله مننه کوم.